# عـودت راستنېدنه

اونیز

هفته نامه



د افغـــــــانستان اسلامي امارت
د کـــډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت
مـــــــالی او اداري معينيت
د اطـــــــلاعاتو او عامه اړيکو رياست
د اطــــــلاعاتو آمــــــريت

(٦٩)گڼه زمرى ١٤٠۴: شماره (٦٩) اسد ١٤٠۴ :صفحه اول:لومړی مخ


## د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزير محترم مولوي عبدالکبير د افغانستان لپاره د ملگرو ملتونو د کډوالو د عالي کميشنرۍ له استازي عرفات جمال سره وکتل

د ناستې په پيل کې محترم مولوي عبدالکبير ښاغلي عرفات جمال او ورسره مل پلاوي ته ښه راغلاست وويل او له افغان کډوالو سره د ملگرو ملتونو د ادارو له مرستو يې مننه وکړه. محترم وزير د ډيورنډ کرښې پورې غاړه ته، د افغان راستنېدونکو د شکايتونو او ستونزو يادونه وکړه او زياته يې کړه، چې لاهم له ايران او پاکستان څخه په جبري ډول افغان کډوال ډله ييز ايستل کېږي. محترم مولوي عبدالکبير وويل، چې د خيبر پښتونخوا په ازاخيل سيمه کې د ملگرو ملتونو د دفتر لخوا د افغان راستنېدونکو د ثبت لړۍ گڼې ورځې نيسي او په ياده سيمه کې افغانان خدماتوته د نه لاس رسي له امله په گرمه هوا کې له گڼو ستونزو سره مخ دي.

د محترم وزير په وينا په پاکستان کې د افغان محصلينو د استوگنې لپاره دې يو منظم ميکانيزم رامنځته او د ويزو ستونزې يې دې هوارې شي. محترم وزير د خپلو خبرو پر دوام، افغان راستنېدونکو ته د اسانتياوو په موخه له پاکستان څخه ننگرهار او کندهار ته، د ملگرو ملتونو د مرکزونو د انتقال غوښتنه شريکه کړه او همدارنگه په پاکستان کې د افغان کډوالو د ستونزو د حل په موخه يې د ملگرو ملتونو د ادارو د لاس په کار کېدو يادونه هم وکړه. د ناستې پر دوام ښاغلي عرفات جمال په پولو کې د اسلامي امارت لخوا راستنېدونکو ته د ښه راغلاست او مرستې لړۍ د ستايلو وړ وبلله. ښاغلي جمال زياته کړه، چې په پاکستان کې د افغان کډوالو په هکله شريکې شوې اندېښنې او شکايتونه به د کډوالو د عالي کميشنرۍ مشرتابه ته ورسوي او هڅه به وکړي چې په پاکستان کې د افغان کډوالو حالت له نږدې وڅاري. نوموړي له افغان کډوالو سره د مرستو د دوام يادونه وکړه او زياته يې کړه، چې په راتلونکې زېـــږدېزه مياشت کې به د يو شمېر هېوادونو او بنسټونو په گډون د افغان کډوالو په تړاو يوه ناسته په کابل کې ترسره شي.

د ناستې په پای کې د کډوالو د چارو محترم وزير يادونه وکړه، چې له هغو راستنېدونکو سره هم بايد مرسته وشي د ثبت پاڼه ونه لري او همدارنگه UNHCR دې خپله بوديجه پخواني حالت ته لوړه کړي.



## افغان کډوال په خيبر پښتونخوا کې د کډوالو عالي کميشنرۍ دفترونو ته له مراجعې پرته کولای شي هېواد ته راستانه شي

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزير مولوي عبدالکبير په کابل کې د کډوالو په چارو کې د ملگرو ملتونو عالي کميشنرۍ د دفتر له مرستيال او سرپرست سره تر ليدنې وروسته او په خيبر پښتونخوا کې د بېرته ستنېدنې مرکزونو کې د افغان کډوالو د غوښتنو د زياتوالي له امله د کډوالو عالي کميشنرۍ پرېکړه کړې، چې له نن (چهارشنبه، د اگست ۲۰، ۲۰۲۵) څخه به افغان کډوال وکولای شي پرته له دې، چې په خيبر پښتونخوا کې د يادې کميشنرۍ دفترونو ته مراجعه وکړي او خپل هېواد ته راستانه شي. د کډوالو عالي کميشنرۍ ډاډ ورکړی، چې په افغانستان کې به ټولو راستنېدونکو کډوالو ته پرته له توپيره يو شان ټاکل شوې مرستې ورکړل شي. دا پرېکړه د کډوالو د ستنېدنې پروسې د اسانتيا او چټکتيا په موخه شوې ده.

## د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزير محترم مولوي عبدالکبير د کويټ هېواد د پارلمان له پخواني غړي دوکتور دجيح خلف الشري او ورسره د خيريه بنسټ له غړي جارالله او سوداگر الشيخ فهد الهنان سره وکتل.

د ناستې په پيل کې دوکتور دجيح خلف الشري وويل، چې افغانستان ته يې د سفر موخه له اسلامي نړۍ او کويټ هېواد سره د اسلامي امارت د اړيکو پياوړتيا ده. د ښاغلي الشري په وينا، د اسلامي هېوادونو ترمنځ نږدې او مثبتې اړيکې د وخت اړتيا ده او بايد پياوړتيا ته يې کار وشي. نوموړي په افغانستان کې د اسلامي امارت له بريا وروسته د افغان ولس لاسته راوړنې وستايلې او يادونه يې وکړه، چې افغانان د پرمختگ او اقتصادي ودې لپاره گڼ فرصتونه لري. ښاغلي الشري څرگنده کړه، چې له اسلامي نړۍ سره د اسلامي امارت د مثبتو او رغنده اړيکو لپاره به خپلو هڅو ته دوام ورکړي.

محترم مولوي عبدالکبير د کويټ د پارلمان پخواني غړي او ورسره مل ملگرو ته ښه راغلاست و ويل او زياته يې کړه، چې له اسلامي هېوادونو سره مثبتې اړيکې اسلامي امارت ته لومړيتوب لري. د محترم وزير په وينا، اسلامي امارت په افغانستان کې د مسوول نظام په توگه د هېواد د پرمختگ لپاره کار پيل کړي او هڅه کوي چې په سيمه کې د يوه اغېزمن نظام په توگه خپلو اقتصادي چارو ته دوام ورکړي.

## د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزير محترم مولوي عبدالکبير د پکتيکا د مرستيال والي ښاغلي مخدوم عبدالسلام سعادت په ملتيا د بغلان سربېره د پروان او کاپيسا ولايتونو له يو شمېر مسوولينو او مجاهدينو سره وکتل.

په دې ناسته کې د پروان، کاپيسا او بغلان ولايتونو مجاهدينو او ځينو ځايي مسوولينو په يادو سيمو کې روان حالت د ډاډ وړ ياد کړ او زياته يې کړه، چې د اسلامي امارت په هڅو، بشپړ امن حاکم دی او ولس له امنيتي ادارو سره ښه همغږي او همکاري لري. دغو مجاهدينو اسلامي امارت ته د خپلو وړاندېزونو پر مهال د يادو ولايتونو خلکو ته د کاري فرصتونو او اقتصادي ودې په موخه د يو لړ پراختيايي چارو د پيل غوښتنه وکړه. د ناستې پر دوام حاضرو مجاهدينو او مسوولينو د ځينو موضوع گانو په هکله خپل نظرونه او سلا مشورې له محترم وزير سره شريکې کړې.

محترم مولوي عبدالکبير د بغلان، پروان او کاپيسا مجاهديتو ته ښه راغلاست وويل او د جهادي دورې پر مهال يې د هغوي قرباني او هڅې د قدر وړ وبللې. محترم وزير وويل، چې اسلامي امارت د افغان ولس شريک ټغر دی او له توپيـــر پرته هر افغان په کې حق لري. د ناستې په پای کې محترم وزير د يادو درېيو ولايتونو د مسوولينو او مجاهدينو ته ډاډ ورکړ چې پر وړاندېزونو به يې غور وشي او حللارې به ورته ولټوي.



## وزيـر امـور مهاجريـن بـا آخريـن سـفير حکومـت قبلـی کابـل در کشـور هنـد، ديـدار کـرد

محترم مولوی عبدالکبير وزير امور مهاجرين و عودت کنندگان با آقای فريد ما مونـدزی آخرين سفير حکومت قبلی کابل در کشور هندوستان، در دفتر کاری اش ديدار کرد. در آغاز اين ديدار، آقای ماموندزی از همکاری امارت اسلامی ابراز خرسندی کرد و تغييرات مثبت کنونی، از جمله امنيت را برای آينده افغانستان مهم توصيف کرده گفت: هر کمکی از دستش بربيايد، برای مردم افغانستان دريغ نخواهد کرد.

محترم مولوی عبدالکبير وی را خوش آمديد گفته افزود: افغانستان خانه مشترک افغان‌ها است و هموطنان می‌توانند با اطمينان خاطر به وطن خود بازگردند. محترم وزير امور مهاجرين توضيح داد که پس از عفو عمومی امارت اسلامی، هيچ‌کس در مورد وظايف گذشته‌اش مورد پرسش قرار نخواهد گرفت و هيچ‌کس نيز جرأت چنين کاری را نخواهد داشت.

به گفته محترم مولوی عبدالکبير، نظام اسلامی مسئول حفظ امنيت هر شهروند در افغانستان است و وحدت افغان‌ها و بازسازی کشور در پرتو شريعت از اولويت‌های امارت اسلامی است. محترم وزير امور مهاجرين و عودت کننده گان فرمودند که خصومت با حاکميت نظام اسلامی پايان يافته و ديگر هيچ آسيبی از جانب افغانستان به جهان نخواهد رسيد.

## د پاکستان له زندانونو څخه له ۱۰۰ زيات افغان مهاجرين آزاد شول

په تېره يوه اونۍ کې ۱۳۱ تنه افغان مهاجرين، چې د پاکستان په بند خونو کې و؛ ازاد او هيواد ته راستانه شول. د کندهار ولايت د سپين بولدک د مهاجرينو د ليږد امريت د معلوماتو پر بنسټ ياد کسان د پاکستان په بېلابېلو سيمو کې نيول شوي و او ديوې ورځې څخه تر ٦ ورځو پورې په بند خونو کې ساتل شوي وو. دغه شوي کسان د ثبت او بشري مرستو وروسته خپلو اصلي مېنو ته وليږدول شول.

## وزیر امور مهاجرین و عودت کنندگان با والی ولایت پکتیکا دیدار کرد

محترم مولوی عبدالکبیر وزیر امور مهاجرین و عودت کنندگان، با ملا عبدالخالق عابد والی ولایت پکتیکا دیدار کرد. والی پکتیکا در مورد عودت کنندگان اخیر از کشورهای همسایه به آن ولایت معلوماتی را با محترم وزیر امور مهاجرین در میان گذاشته افزود: کسانی که اوراق ثبت نام دریافت نکرده‌اند، به کمک‌های فوری نیاز دارند. به گفته محترم عابد، تاکنون کمک هایکه به بازگشت کنندگان صورت گرفته است، اما کافی نیست و آنها به غذا و سرپناه نیاز دارند. محترم والی در ادامه سخنان خود، دیدگاه‌های خود را در مورد رسیدگی و همکاری مؤثر به مهاجرین در پکتیکا با محترم وزیر مهاجرین در میان گذاشت و همچنین پیشنهادهایی را برای حل مشکلات بازگشت کنندگان و اقدامات لازم در مورد آنها به وزارت ارائه کرد. محترم مولوی عبدالکبیر والی ولایت پکتیکا را خیر مقدم گفته و از تلاش های مسئولین امارت اسلامی در حل ورسیده گی به مشکلات عودت کنندگان قدردانی کرد. محترم وزیر امور مهاجرین با اشاره به پیشنهادات ارائه شده، اظهار داشتند که هر اقدامی که مربوط به مهاجرین در ولایات می‌شود، با هماهنگی ولایت مربوطه انجام می‌شود و برای کار مؤثر، باید اولویت به اجرای اصول داده شود. محترم مولوی عبدالکبیر وزیر امور مهاجرین خاطرنشان کرد که با هماهنگی کمیسیون عالی مهاجرین، برای حل مشکلات عودت کنندگان در پکتیکا تلاش خواهد شد.

## صد ها خانواده در پنج ولایت کشور کمک شد

برای ٥٦٨ خانواده بیجاشده، نیازمند و برگشت کننده در ولایات، خوست، غزنی، ارزگان، دایکندی و کاپیسا، در جریان هفته روان، کمک های خوراکی و غیر خوراکی توزیع شده است. در خوست برای ۱۳ خانواده مبلغ ۱۸۲ هزارافغانی، در غزنی برای ۵۱ خانواده مبلغ ۸۴٦ هزار و ۷۵۰ افغانی، برای ۵۴ خانواده در ارزگان مبلغ ۳۷ هزار و ۸۰۰ افغانی و در کاپیسا برای ۴۵۰ خانواده یک قلم مواد خوراکی با همکاری نهاد های همکار این وزارت پس از شناسایی آنان، توزیع شد. طبق یک خبر دیگر، ۸۰ تن خانم های برگشت کننده مستحق و بیجاشده در ولایت دایکندی که قبلاً شناسایی شده بودند یک بسته صحی کمک نهاد همکار این وزارت را دریافت نمودند.



## د کډوالو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر د هېواد د بېلابېلو سیمو د اهل تشیع له یو شمېر علماوو او قومي مخورو سره وکتل.

په دې ناسته کې د اهل تشیع حاضرو مخورو او علمای کرامو په هرات کې د ترافیکي پېښې قربانیانو ته دعا وکړه او د اسلامي امارت لخوا راستنېدونکو هېوادوالو ته ورانديې کېدونکو خدماتو او د هغوی د لاس نیوي ستاینه یې وکړه. دغو قومي مخورو او علماوو وویل، چې له گاونډیو هېوادونو څخه راستانه شوي افغانان له اسلامي امارت څخه رضایت لري او ورانديز یې وکړ، چې اسلامي امارت دې له ایران څخه د افغانانو د توکو او شتمنۍ د انتقال لپاره حللارې ولټوي. د اهل تشیع مخورو او علماوو اسلامي امارت ته د روغتیا او عامه پروژو د پلي کېدو په برخه کې په ورانديز سربېره یادونه وکړه، چې په بامیانو کې د اهل تشیع وګړو غوښتنو ته رسېدنه شوې او هیله یې څرګنده کړه، چې یاده لړۍ په میدان وردګ او غزني کې هم پلې شي. د ناستې په پای کې حاضرینو وویل، چې اسلامي امارت دې د راستنېدونکو لپاره د کور جوړولو د امر تر لاسه کولو دولتي پروسه ساده کړي. محترم مولوي عبدالکبیر راغلو علماوو او مخورو ته ښه راغلاست وویل او له اسلامي امارت سره یې د اهل تشیع د مشرانو همکارۍ وستایلې. محترم وزیر وویل، چې راستنېدونکو ته د لنډ مهال خدماتو سربېره، اسلامي امارت به هرې راستنې شوې مستحقې کورنۍ ته په خپل ولایت کې ځمکه ورکړي او تمه ده چې دا لړۍ ژر بشپړه شي. د محترم مولوي عبدالکبیر په وینا، اسلامي نظام د هر راستانه شوي غوښتنې ته متوجه دی او د ایران له حکومت سره څو ځلې د افغان کډوالو په تړاو خبرې شوې او دغه راز، د افغانانو د توکو او شتمنۍ د انتقال لپاره پر لارو چارو فکر شوی دی. نوموړي زیاته کړه، زده کړو او تحصیل ته د راستنو شوو محصلینو او زده کوونکو د لاس رسي لپاره اړوندې اداري بوختې دي او راستانه شوي ځوانانو خپلو زده کړو ته دوام ورکولای شي. د ناستې په پای کې محترم وزیر یادونه وکړه، چې د اهل تشیع وګړو ورانديزونه به له ادارو سره شریک کړي او ورته د رسیدنې حللارې به ولټوي.

## برنامه آموزشی سه هفته ای، برای کارمندان وزارت امور مهاجرین برگزارشد

برنامه آموزشی سه هفته ای برای ۳۰ تن از کارمندان ریاست های مرکزی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان، از جانب ریاست امور کارکنان این وزارت، برگزارشد. این برنامه با هدف ارتقای مهارت و دانش کارمندان در بخش های پلان گذاری، تصمیم گیری و دوسیه بندی مرتبط با و ظایف شان برگزار شده است.

